ورځپاڼه

شریعت

SHARIAT DAILY

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ٤٩مه گڼه پرله پسې (٤٢٨) یکشنبه د١٤٢٢هـ ق دربیع الثانی (١٧)
د١٣٨٠ هـ ش کال دسرطان (١٧) د٢٠٠١ میلادی کال دجولای (٨)

الهی فرمان

هغه ورځ (دي ورياد كړی)
چي خپلې ژبې، لاسونه او پښې
به يې په هغو عملونو شاهدي
وايي چي كول به يې
(٢٤- النور)

په غورکی :

دمخالفینو٨ تنه قوماندانان او ٢٠٠ تنه افراد اسلامی امارت ته تسلیم شول

غور :
د مخالفینو اته تنه قوماندانان د خپلو دوه سوه تنو افرادو په گډون دغور ولايت په مربوطاتو كي د اسلامي اردو له پرخونو سره یوځای شول .
د غور ولايت له مركز چغچران له ښار څخه د باختر د اطلاعاتي اژانس خبريال خبر راكړ قوماندان ډاكتر نوراحمد ، قوماندان محمد حسن رضايي ، قوماندان نور الله مومن يار ، قوماندان صلاح الدين ، قوماندان حاجي خان ، قوماندان داؤد ، قوماندان عبدالقيوم او قوماندان محمد امين چي پخوا له اسلامي امارت سره په مخالفت كي د په دي وروستيو وختو كي له مخالفت څخه لاس واخيست او له خپلو اتيا تنو وسله والو افرادو او دېو سلو شلو تنو بې وسلې افرادو په گډون دغور ولايت په مربوطاتو كي د اسلامي اردو له پوځونو سره يوځای شول .
د هغي كتني په ترځ كي چي دغور والي محترم مولوي عبدالرحمن حقاني له اسلامي امارت سره له يوځاى شويو قوماندانانو سره د دغه ولايت په مقر كي وكړه د اسلامي امارت هدفونه او پروگرامونه او د اسلام د
٤ مخ

امتحان وسطی مدارس شهرکابل آغاز گردید

کابل - شریعت :
امتحانات وسطی سال جاری مدارس شهرکابل دیروز آغاز گردید .
از جریان امتحان طالب العلمان مدارس محترم ملاامیرخان متقی وزیرمعارف، محترم مولوی عبدالسلام حنفی معین وزارت معارف وعده از مسوولین آن وزارت
ص ٤

هفته نامهٔ جیهز چاپ لندن در شماره اخیر خویش ؛

احمد شاه مسعود ازروسیه هلیکوپترو تانک های جدید بدست آورد

مسعود این سلاح ها را از طریق تاجکستان بدست آورده است

همین حالا قاچاق لاجورد وزمرد از بدخشان جریان دارد

احمد شاه مسعود سردسته گروه یاغی شورای نظار اخیراً طی مصاحبه یی با هفته نامه جیمزچاپ لندن مدعی شده است که پنج فروند طیاره هلیکوپتر وچندین چین تانک وخود روهای زرهی راجدیداً از روسیه بدست آورده است . هفته نامه از قول مسعود مینگارد :
مسعود با بدست آوردن تسهیلات جدید از روسیه وبدست
٤ مخ

د مالیي وزارت د محاسبی کورس پرانیستل شو

کابل:
دماليي وزارت د محاسباتو د لوی رياست مسلكي او روزنيز كورس پرون په دغه وزارت كي پيل شو .
د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راكړ په دغه كورس كي چي د ماليي وزارت د محاسباتو د لوی رياست لخوا او د اسلامي امارت د ملكي او پوځي ادارو د حسابي برخو د اتيا
٤ مخ

په بادغیس کی

یوه نوی مدرسه جوړیږی

بادغیس :
د بادغيس ولايت په سرچشمه هفت كمري كي د يوي مدرسي د بنسټ ډبره كيښودل شوه .
د بادغيس له ولايت نه د باختر د اطلاعاتي اژانس خبريال خبر راكړ په هغي غونډه كي چي له همدي امله د دغه ولايت د هفت كمري په كلي كي
٤ مخ

پطرولی جنراتور په گازی سیستم بدل او د استفادی وړ وگرځید

شبرغان :
دشمال د تيلو او گاز د پلټني رياست د انجنیرانو او فني كارگرانو هڅو او هاند له امله يو پطرولي جنراتور په گازي سيستم باندي بدل او داستفادي وړ گرځيدلی دی .
د شبرغان له ښاره د باختر اطلاعاتي اژانس خبريال خبر راكړ د شمال د تيلو او گاز د پلټني رياست انجنیرانو او فني كارگرانو له دغه او مستعملو پرزو څخه په استفادي سره
٤ مخ

توسط ریاست انکشاف دهات در شش ولایت

٣٢٦ حلقه چاه آب آشامیدنی حفر گردیده است

کابل- شریعت :
ریاست انکشاف دهات بخاطر مبارزه با خشکسالی در ولایات کابل ، ننگرهار، جوزجان ، لوگر ، غزنی و پکتیا جمعاً (٣٢٦) حلقه چاه حفر وبه تعداد ١١٦ پایه پمپ دستی آب بالای آن نصب نموده است.
این مطلب رامحترم گل فقیر حنیف یار
ص٤

از ملی بس تا سراچه

هرهفته تا ٢٠٠ سراچه در گمرک کابل محصول میگردد

معاون گمرک کابل

جهت رفع مشکلات مردم؛ تاجران ملی باید بجای سراچه ها بس های شهری وارد نمایند

کابل -شریعت :
درمقایسه با سیستم تکسی شهری ، خدمات بس های ترانسپورتی شهری درشهرکابل خیلی عقب مانده است.
خبر نگار ما درزمینه چنین گزارش میدهد :
دیریست که خدمات بس های ترانسپورتی شهری در قبال حمل ونقل هموطنان ما از یك ایستگاه به ایستگاه دیگر درشهرکابل خیلی عقب مانده واز این ناحیه کمتراز ٢ ملیون انسان درجاده های
ص٤

د چرسو کرونده له منځه یوړل شوه

میدان وردگ :
د میدان وردگ ولایت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اداري مؤظفینو د دغه ولایت په مربوطاتو کي د بنگو د کرکیلي پنځه بسوي ساحه ویجاړه کړه .
٤ مخ

بدی اخیستونکی رسوا شول

کابل:
د استخباراتو د لوی ریاست د تعقیب د اداري مؤظفینو دوه تنه بدي اخیستونکي لاس په لاس ونیول .
د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ د کابل ښاروالي د څلورمي ناحیې د انجنیري د لوی مدیریت د
٤ مخ

مسابقه فوتبال تیم کابل الف و سباوون مساویانه خاتمه یافت

کابل - شریعت :
به سلسله مسابقات تورنمنت بهاری فوتبال دیروز مسابقه جالب میان تیم های منتخبه کابل الف و سباوون به راه انداخته شد .
ص ٤

جنرال مشرف : دهنداوپاکستان اړیکو پرمختیا په کشمیر پوری تړلی ده

اسلام آباد :
دپاکستان داسلامي جمهوریت جمهور رئیس او ددغه هیواد د اجرائیوي شورا رئیس جنرال پرویز مشرف ویلي دي ترهغه وخته چي هند او پاکستان دکشمیر دمسالي په سرخپل اختلافونه حل نه کړي دداوړو هیوادو ترمنځ به تجارتي
٤ مخ

زهر - دکوکنارومخنیوی لپاره بله طریقه!

٣مخ

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدای «ج» په نامه

د «مسعود» نوی سودا - په سرو لالونو توریانکونه!

د پنجشیر او بدخشان لال ، یاقوت ، زمرد او نورې گران بیه ډبرې زموږ د هیواد له سترو عایداتو گڼل کیږي چي یو وخت به د هیواد په وداني او دخلکو په سوکالی کي ترې کار اخیستل کیده .
خو له بده مرغه داځو کاله کیږي چي دغه قیمتي کانونه د یوشمیر جگړه مارو په لاس کیوتلي او لگیادي د خپلو شومو اهدافو او افغان ولس د مرگ او تباهي لپاره یې کاروي ، د خبري سرچینو له مخي د لندن له دفاعي اونیزی سره د مرکي پر وخت د جگړه مارو یو مشر احمدشاه مسعود څرگنده کړي چي د پنجشیر او بدخشان د
٢ مخ

دوطیاره جنگی هند سقوط کرد

دهلی جدید :
براساس گزارشهای منابع نظامی هند دو فروند طیاره جنگی آن کشور در فاصله دوروز سقوط کرد .
طیاره اول از نوع میگ ٢١ بوده که پیلوت آن هم هلاک شده است و دومی آن میگ ٢٣ بود .
علت سقوط این طیارات تا هنوز اعلان نشده است .

در تهران

یك زن ٣٦ ساله به دار آویخته شد

تهران - رویتر :
یك زن ٣٦ ساله ایرانی دو روز قبل در مقابل چشمان مردم در تهران به دار آویخته شد .
طبق گزارش منابع خبری ،چهار سال قبل این زن به جرم قتل یك زن ٦٥ ساله اعتراف نموده بود که بعداً از طرف محکمه مجرم شناخته و اعدام گردید .

په اوکراین کی

یو ژورنالیست ووژل شو

لرغوالي خبري سرچینی :
هغه اوکرایني ژورنالیست چي د دي اوني په سرکي په خپل د لتي
٤ مخ

پەنیپال کی مائو ویستانو څلویښت کسه ووژل

بهرني خبري سرچیني :
په نیپال کي مائوویستو یاغیانو په یوشمیر بریدونو کي لږ تر لږه څلویښت امنیتي چارواکي وژلي دي . د مائوویستانو د لوډ نیپال د پاچا په ضد له ډیر وخت څخه پاڅون پیل کړیدی .
دغه وژنې د نوي پاچا گنندرا د پخه پنځوسي
٤ مخ

قیام مسلحانه مجاهدین فلسطینی ادامه دارد

مبارزین دریک مجتمع بزرگ صهیونیستان حمله کردند

رام الله :
قیام مسلحانه مجاهدین فلسطینی علیه اشغالگران همچنان ادامه دارد .
درهمین راستا شب جمعه گذشته یك پایگاه اشغالگران در نوار غزه مورد هدف مبارزین قرار گرفت که خسارات زیادی به
ص ٤

میلوسویچ مسوول دفن هشتصدتن مسلمان صرب است

لاهه- بی بی سی :
یک مقام بلند پایه صرب میگوید پولیس یوگوسلاویا درتلاش آن است تا در باره جسد کسانی هشتصدتن رادرجریان جنگهای کوسووا درنقاط مختلف صربستان به صورت دسته جمعی
٤ مخ

له لندن نه د ډاکتر فاروق اعظم خپور شوی لیک

سوړ جنگ او دهغه تاریخی پس منظر! ٢مخ

دغابنونو حفظ الصحه ٣ مخ

به طفل باید کمک کرد تا به آینده امیدوار شود

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
تیلـفـون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتی مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

قیمتی کانونو ټول تجارت یې په خپل لاس کې اخیستی او دادی په دغو پیسو یې شه نوی روسی ټانکونه ، چورلکې او ډول ډول توپونه را نیولی دی ، مونږ په دې کې څه نه شو ویلای چې آیا له روسانو سره د مسعود دغه نوی سودا به رښتیا هم داسې په نغدو وی او که څنگه ؟

څکه روسانو خو له «تره کی» او کارمل نه رانیولی بیا تر مسعوده پورې د افغان ولس ټولو قاتلینو او نوکرو جگړه مارو ته بې درکه وسلې او جنگی مهمات ورکړی چې د دوی په شان بې ماهیته کسان بې هیڅکله هم بیه نه شی پوره کولای بلکې روسان په خپله د ځانگړو استعماری اهدافو لپاره له دې څو واری زیات لگښتونه کوی خو زمونږ تعجب په دې کې دی چې «مسعود» ولې د افغانستان دخلکو دا شریکه پانگه د خپلو جنگی موخو لپاره استعمالوی او بیا په وازه خوله ناری وهی او ویاړ کوی ! . دوی که دغه پانگه په هرې خوا لگولې وی بیا هم دملت حق او ځرگند ظلم دی . نو په داسې حال کې چې افغان ولس دهمدغو روس ټپلو جگړو او وچکالی د لاسه سخت کړاوونه گالی او هره ورځ د هیواد په لر او بر کې د لوږې له امله د یو شمیر مظلومو وگړو د مرگ خبرونه خپریږی ، مگر دغه جگړه مار قهرمان !! دغلو دانو پرځای هیواد والو ته اور او باروت رانیسی ! . آیا په همدې بدخشان کې یې د لوږې په اثر په خپله خوله د سل گونو تنو د مرگ خبر خپور نه کړ ؟ آیا همدا اوس په بدخشان ، پنجشیر او ورڅیرمه سیمو کې سخته قحطی او لوږه نه ده خپره ؟ او آیا داحقایق له چا پټ پیدای شی ؟ نو بیا په کومو سترگو د قیمتی معدونونو له درکه د پریمانه پیسو او یوې دغسې سودا خبرې کوی . مونږ په داسی حال کې چې د روسانو دغه نوی وسلې د هغوی خپل ځانی لگښت او زمونږ پر هیواد ځرگند تیری بولو ، یقین لرو چې که روسانو ته دخپلو افغان هیواد والو د وژلو کوم بل ذمه وار ور پیدا شی نو هم به ډیرې وسلې او پیسې ورکړی . ضمناً د مسعود دغه سودا او بې حیا ځرگندونې د خپل مسلمان او مجاهد ملت انصاف او قضاوت ته پریږدو . آیا دا ډول معامله گران د افغان کړېدلی ولس کوم درد دوا کولای شی ؟

زهر- دکوکنار ومخنیوی لپاره بله طریقه !

داحقیقت له هیچا پټ نه دی چې د گران هیواد په ځینو سیمو کې یو شمیر کروندگرو له تیرو څو کلو راهیسی دکوکنارو په کرلو سره خپله بوخه گوزاره روانه کړې وه . که څه هم د هغو پریمانه گټو په مقابل کې چې د مخدراتو بهرنیو سوداگرو له دغو اپیمو او هیروینو لاس ته را وړلی ، د افغانانو لاس ته را ورته زرمې برخې ته هم نه رسیږی خو بیا هم د افغانستان په شان غریب ملک ته دا ډیرې پیسې وی چې له بده مرغه زمونږ یو زیات شمیر هیواد والو ته یې د معتاد کیدلو تاوان څو برابره زیات ؤ . له بلې خوا هغه بدنامی چې په نړیواله توگه افغانانو ورسره مخامخ او دنړی په گوټ گوټ کې په د مخدراتو چلوونکو او میشته کسانو په سترگه ورته کتل کیدل ، بیخی له اټکله پورته وه .

داچې د لوی خدای په توفیق او مرسته اسلامی امارت دکوکنارو په بشپړ بندیز وسی او ستر بریالیتوب یې لاس ته راووړ ، د ټول افغان ولس لپاره ډیره دخوښی او ویاړ خبره ده څکه اوس گرد افغانان له هغې بدنامی او تور داغ نه خلاص شول چې دکوکنارو له پلوه پرې لگیدل ؤ .

اوس مهمه داده چې دغه تاریخی بریالیتوب وساتل شی ، هغو لاسونه چې خلک د دې ناولی بوټی کرنې ته بیا هڅوی ، لنډ او گرد ولس په دې و پوهول شی چې له کوکنارو دې همیشه لپاره لاس پرېمنځی . څکه یو داچې «امارت» په دې هکله مخلص او جدی دی چې په هیڅ صورت به د کوکنارو کرنه ونه زغمی او بل داچې نړیوال هم له مخدراتو ډیره بده منی او لوستونکو په څو ورځی مخکې د امریکی راډیو هغه مذاکره اوریدلی وی چې په افغانستان کې د کوکنارو د کښت په اړه یې خپره او له یو شمیر ماهرینو سره یې مرکې وکړې . په دې لړ کې د ملگرو ملتو د مخدراتو بندیز کمیټی یو پخوانی کارکوونکی شاغلی «تونی وایت» له حیرانوونکو واقعیتونو پرده پورته او دملگرو ملتو دوه مخی او پټې دسیسې یې بې په ډاگه رابرگندې کړی . نوموړی و ویل په ملگرو ملتو کې دمخدراتو کنټرول اداري لا دمخه «مخالفینو» سره تماسونه نیولی ترڅو دهغوی له لارې د افغانستان په ټولو هغو سیمو کې چې کوکنار کرل شوی ، داسې زهرجن کیمیاوی مواد وښندی چې نه یوازې کوکنار له منځه وړی بلکې هغه فصل هم اغیزمن کوی چې بیا وروسته د هغه پرځای کرل کیږی ، «تونی وایت» داهم وویل چې

فـــاروق

د دې مقصد لپاره د ملگرو ملتو د مخدراتو کنترول اداري له خوا او د امریکې په دباو او غوښتنه د ازبکستان په تاشکند کې همدا اوس یو ډیر خطرناک پروگرام تر لاس لاندې دی . په دې اساس ویلای شو چې د کوکنارو کرل نور په هیڅ صورت هم یو مناسب او معقول کار نه دی . څکه نړیوالې غرضی حلقې حتماً د افغانستان د خلکو له بې وزلی او اړتیا نه په استفادې یو شمیر داسې کسان پیدا کولای شی چې د کوکنارو له منځه وړلو په نامه د خلکو په کروندو کې دغه زهر وپاشی چې په دې توگه له یوې خوا کوکنار تباه کړی او له بلې خوا د امنیت په هکله سوالونه را پیدا کړی . لنډه داچې اوس د ټولو خبر او پرده په دې کې ده چې هیڅکله هم د کوکنارو بیا کرنې ته زړه ښه نه کړی او په دې ډول نه له امارتی چارواکو سره دخولې خوند خراب کړی او نه خپلې کروندې زهرجنې او عیبی . دهیواد درانه کروندگر باید له پاکه خدایه برکت او اجرونه وغواړی ، پاک او حلال گټور شیان وکرې په دې شان دهیواد په غلو دانو زیاتولو کې خپل مهم مسئولیتونه سرته ورسوی .

له لندن نه د ډاکټر فاروق اعظم خپور شوی لیک

محمد یعقوب کاکړ دحاجی شکور اکازوی چې دکندهار په تسینتاً بدایه کورنی کی زیږیدلی وو څلورویښتوس کاله پخواولندن ته دتعلیم لپاره تللی و ، که څه هم څو کاله بیرته افغانستان ته ستون شوی او څو کاله یې خدمت هم کړی و خو غربی کلتور پرده یې اثره نه و ، اوله همدی امله یې دلته انگریزه ښځه وکړه او له هغې یې دری لونې هم درلودې خو زما وروړچې له هغه سره یې له نږدې پیژندل او ډیر ونورو افغانانو چې په (بی بی سی) کی یې له کاکړ صاحب سره یو ځای کار کړی و راته ویلی چې هغه ښه مسلمان لمونځ گذار ، په زړه پاک او زړه سواند سړی وخوله دی ټولو ښیگڼو سره یې ونه شو کولای چې خپله ښځه او اولاد مسلمانان کړی - په دې ډول هغه په خپل کور کی دیو متضاد او ناآرام ژوند ښکار و دغه روحی کشمکش دکاکړ صاحب روح هم آرام ته پرې نه ښود داو په لندن کی دزړه دحملی له امله ناببره مړ او یوه اونی وروسته دجون په څلورمه (۲۰۰۱م) بیخ سو- مړی یې دده ښځی «داکشون» په خپله عیسوی هدیره کی دنورو پرنگیا نوڅنگ ته په داسی ډول ښخ کړچی دکفن پرځای یې د پرنگیانو په شان دریشی وراغوستی وه ، مسلمانان یې مړی ته نږدې نه ورپرېښودل ، یو څو افغانان یې جنازې او ښخیدو ته ورغلی و خوټول په خپلو ورتلو پښیمانه وه - زه یې هم هدیرې په ورغلم دمسلمانانو پرځای یې پسر د پرنگیانو پرتابوت خاوری اړولی ما هم دده روح ته له دعا سره څه خاوره پرشیر وارولی مگر پرنگیان حیران وو چې زه څه پرې وایم ؟ هغوی ته تعجب راته وویل چې دامړی ستاڅه و ؟ ما ویل : وطندار . کله چې هغوی پو د شول مړی دبل وطن سړی دی نو پوښتنه یې وکړه چې دلته یې څه کول ؟ ماویل : قسمت راوری و - وروسته زده عبرت په سوچونوکی ځینی را روان سوم ... »

والسلام علیکم

(له طلوع افغان نه په معمولی اختصار)

گرانو لوستونکو! داوه دیوه پردیسی افغان دمرگ کیسه چې ډیره خواشینوونکی او دپند او عبرت پیښه ده - رښتیا هم چې له غیر مسلمو سره مینه او ډیری اړیکی بالاخره یو مسلمان له دغسی انجام سره مخامخ کوی نو لوی خدای دی زمونږ هیواد وال او ټول پردیسی افغانان پرخپل نفری رالول او دبی وسی او بی کسی له دغسی ژوند او مرگه وژغوری .

اداره

داسلامی نړی طبابت ته لنډه کتنه ۸

ددطبابت په برخه کی معلومات درلودل او دطبی نباتاتو په برخه کی یې لوی کار کړیدی . همدارنگه په مختلفو علوموکی یې ډیر آثار منتج نه راوړی دی . البیرونی ۱۱۳ کتابونه لیکلی چې دهیئت ، طب ،حکمت ، حساب اوفزیک مباحث ... په برخه کی و . (داردومجلی کلتی دویم مخ- دغیرگولی میاشت ۱۳۵۲ کال) په بل روایت کی وائی چې دده تالیفات له ۱۱٤ نه زیات دی . دده دکیمیا په برخه کی هم ډیر کتابونه لیکلی دی . دطبابت په برخه کی دده مشهور اثر ده صیدله «په نامه یادیږی چې یوه نسخه ئی دعلیگړ په مدرسه کی موجوده ده ، داکتاب دطبابت

د لغاتو په برخه کی دی چې عثمان الکاشانی هغه د ۶۰۷ هـ (۱۲۱۱م) کال نه وروسته په هندوستان کی ترجمه کړیده . ددی کتاب ترتیب داسی دی چې مصنف لومړی ددوا هغه نوم چې ډیر شهرت لری لیکلی او وروسته په عربی ، یونانی ، سریانی ، جرجانی ، خوارزمی ، فارسی ، عراقی ، هندی ، سندی او نورو ژبو چې معنی ئی یو شان دی بیا نوی او وروسته دهغه خاصیت روښانوی . داسلام فلسفی تاریخ په ۱۳۳ مخ کی ذکر شویدی چې ابن سینا په حکمت او نورو افکار وکی

تر بیرونی وروسته پاتی ؤ مگر دتعجب خبره داده چې ابن سینا مشهور شو او بیرونی له یاده ووت . فکر کیږی ابن سینا دطبابت په برخه کی دومره عالی تالیفات پرځای پرېښود ل چې هر وخت ورته ضرورت احساسیده او دسترگو په قدر په سترگه ورته کتل کیده پدی ترتیب ابن سینا په عوامو کی دژبې پرسر گرځید دحالانکه بیرونی هم څو کتابونه دطب په برخه کی لیکلی خو دهغه علاقمندی په فلکیاتو ، ریاضی ، تاریخ او نورو علوموکی ؤ . خوشحال خان خټک : خوشحال خان خټک (۱۰۲۳-۱۱۰۰)

پوهاند عبدالحی مومنی

ادیب او نامتو شاعر ؤ چې ۲۵ تالیفات لری او دهغو له جملی طب نامه ، یادولی شو چې دنظم په توگه لیکل شویده دا اثر دخوشحال دده سره شیر اتبایی کالیزی په ویاړ دمرحوم پوهاند رښتین له خوا ترتیب ، تنظیم او طبع شویده ، یوه نسخه ئی دوقت د پښتو ټولنی کتابتون کی موجوده وه چې دمرحوم محمد عمر بلبل افغان له خوا پښتو ټولنی ته اهدا شوی وه . بر سیره پردې چې دا اثر طبی اثر دی لغوی ارگرا مری ارزښت هم لری .

پدی کتاب کی یو لړ طبی هدایات ، دسترگو درملونه ، د زیږی نسخی ، دپوستکی دامراضو نسخی ، دټوخی دوا ، داستسقا ، بواسیرو ، دگیډې د دردوا گانی ، نبی معجون ، دمتیازو دبند نښت دوا ، دمشانی دسږدردی علاج ، دوښی ایستلو گټی ، حاملې ښځې ته هدایات ، دنارینه حقوق پرښځې باندی او دښځې حقوق پر نارینه باندی ، دصحت خبری ، دصحبت اداب ، دښځې او نارینه اداب ، دحمام تعریف او ښیگڼی ، دکسب او کار گټې اوداسی نور مطالب پکی لیکل شوید ی چې اوس هم له ځینو برخونه کیدای شی ، گټه واخستیله شی .

پاتی لری

سوړ جنگ او دهغه تاریخی پس منظر !

د ۱۹٤۷ میلادی کال د می په میاشت کې د امریکا دمتحده آیالاتو یو پخوانی جمهور رئیس پر زیډنټ «ترومن» دپخوانی شوروی اتحاد ، د تیری او پراختیا غوښتنې د طرحو له امله د یونان او ترکیې د هیوادونو د ملاتړ په اړه یو قانون لاسلیک کړ ، متحده ایالاتو په رسمی توگه د شوروی د مخنیوی په منظور د لوبډیځ رهبری په غاړه واخیسته .

په ژوره او دقیقه توگه (۲۹) کاله وروسته د ۱۹۷۲ عیسوی کال دمی په ۲۲ مه د متحده آیالاتو یوبل پخوانی ولس مشر «ریچارد نکسن» له پخوانی شوروی اتحاد نه د رسمی لیدنی په وخت مسکوکی اعلام وکړ : «مونږ دادی په داسی حال کې یوبل سره گورو چې کولای شو په سوله ایزه فضا ، کې د گډې همکاری اصل ته د عمل جامه واغوندو . »

د دی دوو نیټو ترمنځ د پیړی یوه ربعه واټن دی او دا ۲۹ کلنه دوره د ختیځ او لویدیځ په اړیکو کې د لورو او ژورو یو تاریخ دی چې په دې موده کې سوړ جنگ (COLD. WAR) په خپلې اصلی نیټې را ښکاره کیږی ، بدلون کوی او خپل ځای یو بل پړاو ته په بیلابیلو خصوصیاتو او ځانگړتیاو سره بریږدی . کلا وز ویتـــــز (CLAUSE.WITZ) دپروس د پوځی ښوونځی مدیر د اتلسمې پیړی په وروستیو کې چې دجنگ له مشهورو تیوریسنانو او صاحب نظرانو ؤ لیکی چې : جنگ د سترو او لورو گټو او منافعو ترمنځ یو اختلاف دی چې په وینه پاکیږی څکه نو د نورو اختلافونو سره توپیر لری «د دې تعریف یو روښانه انعکاس د یوې پیړی په لړ موده کې د پروس صدر اعظم «بارون او توبیسمارک» په کړو ، وړو او وېناؤ کې هم لیدلای شو چې عقیده یې درلوده : سترې او لویې مسألې په خبرو اترو نه حل کیږی بلکې داکار په اوسپنې او ، وینې سره سرته رسیږی

نوموړی د همدې منطق پر اساس د فرانسی ، اطریش او ډنمارک دریو هیوادونو سره دجنگ په دورانکې یو ستر کـر ترسره او د المان یووالی ته یې تحقق ور وباښه .

د جنگ دا کلاسیک او زوړ تعریف د سولې او جنگ د شرایطو له مخې د دولتونو په اړیکو کې په بشپړه توگه توپیر لری ، خو د وخت د

ژباړن - ناصر شاه سرحدی

غوښتنو او زمونږ د وخت په شرایطو کې د تطبیق وړ نه دی .

او ځای یې یوازې د تاریخ په پاڼو کې پاتیږی څکه د هستوی متعارفو وسلو بې‌ساری قدرت او ځواک د دې تعریف دمنلو امکان له منځه وړی .

د اتلسمې پیړی په وروستیو کې چې «کلاویتز» د پوځی ښوونځی مدیر ؤ جنگ یې داسې تعریف کړی ؤ : هر سر تیری دخپل خدمت په موده کې د خپل بیرغ لاندې

نشی کولای له خپلې کچې زیات د دښمن سر تیری له منځه یوسی .

د هغې محاسبې پر بنسټ چې د لومړی نړیوال جنگ په موده کې سر ته رسیدلی ، تقریباً دهرلس زره ټوپکه او یا لس میله توپونه چې فیر کیدل ، کولای شول یو تن و وژنی په داسې شرایطو کې جنگ د نن ورځې په شان څېره نه درلوده چې دخپلو جنگیالیو په طبیعت برابر او دخپل وخت د ډیر ښه فن او جنگی مورال په توگه وگڼل شی او د دولتونو په حسابونوکې د خپلو ځانگړو مقصدونو او هدفونو لپاره خاص ځای ولری . د تیری (۲۰) پیړی په وروستی ربعه کې د نړۍ محدودو او گوته په شمار اتومی قدرتونو کولای شول د یوې دکمې (بټن) په زور په سل هاؤ میلونه انسانان تباه او له منځ یوسی پراخه څمکه د تل لپاره د ژوندیو موجوداتو او هر راز ژوند کولو نه خالی کړی خو هغه ځواک او قدرت چې دا ډول خطرناکو کارونو ته لمن ووهی باید پوه شی چې متقابل لوری او سیال یې هم کولای شی په ورته عمل سره د یوې بلا او وژونکې آژدها په شان یې په سر ، را وړیږی .

پاتی لری

روغتیا او ټولنه

د سید یوسف شریفي امر خیل په زیار

اسلامی امارت تل د ماشومانو جسمی او روحـــی ودی تـــه پاملرنـــه کوی

لکه څرنگه چې زده کـــړه د زیږیدو له شیبې څخه پیل کیږی او تجربو ښودلی ده چې د هغې زده کړې کـیـفـیت چې مـاشـوم یې د خـپل ژوندانه په لومړیو دوو کلونو کې زده کوی د ده د مغزو په ودې او بشپړتیا باندې د اوږدې مودې اغیزه کوی.

د افغانستان اسلامی امارت د دغه اصل له په پام کې نیولو سره د مـــاشـــوم او مـــور د ســـاتنې د کلینیکونو، زیږنتـــونونو، د واکسیناسیون د ملی کمپاینونو، د ماشومانو د ناورو خوړو د ناروغی د مخنیوی او درملنې د پروگرامونو د تطبیق او عملی کولو، د ماشومان د روغتیا د روغتونونو د سمبالولو او فعالولو د زمینو په برابرولو سره د ماشومانو روغتیا او سلامتیا او دهغـوی روحی او جـــسمی ودی ته پاملرنه کړی او په دی لاره کی یې له اړوندو ملی او نړیوالو مؤسسو سره له هیڅ راز مرستی او همکاری څخه ډډه نه ده کړی.

د افغانستان اسلامی امارت په دی اصل باندی په پوهیدو سره چې د ژوندانه چاپیـــریال او وراثت د ماشومانو په روزنه کې اساسی رول لری د ماشومانو چاپیریال محیط یې له ناروا او بې لاری کـــوونکو عملونو څخه پاک کړیدی او په ملی او اسلامی روحیی سره یې دهیواد د بچیانو د سالمی روزنی زمینی برابری کړیدی.

د افغانستان اسلامی امارت په ملی او اسلامی روحیی سره په ډله ییـــزی ښـــوونی او روزنی باندی لاسبری ته د لومړیتوب حق ورکوی او هلی ځلی کـــوی چې په اسلامی سیرت او صورت سره سمبال علمی او اسلامی کدرونه ټولنی ته وړاندی کړی.

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو دښـــوونی او روزنی په لاره کی د افغانستان د اسلامی امارت لخوا دغـه اقـدامـات په داسی حـال کی شـــویدی چې د ملګرو ملتـــو په سازمان پوری اړوندی موسسی او په تیره بیا یونسکو په دې برخه کې د افغانستان اسلامی امارت سره هیڅ راز مرسته او همکاری نه کوی.

د دغـه سازمـان د همکاری په صورت کې ددې امکان موجود ؤ چې په دی برخـــه کـــې زیات پرمـــخـــتـگونه شـــوی وای.

اسهالات دومین علت مرگ و میر اطفال است

اسهالات دومین علت معمول مرگ و میر اطفال است، مرگ اکثراً به اثر دیهایدریشن که عبارت است از ضیاع مایعات و نمکیات بدن به وجود می آید همچنان اسهال یک عامل عمده پیشرفت سو، تغذی نزد اطفال است.

اسهال عبارت از خارج شدن مواد غـایطه آبگین است. خارج شدن مواد غایطه نارمل به دفعات زیاد اسهال نیست.

اسهال یک آفت بسیار معمول نزد اطفال خورد سن است، نظر به مطالعات اجرا، شده چنین تخمین گردیده که یک طفل سالانه ۳ الی ۵ دوره اسـهـال را میگذراند چون اسهال یک پرابلم معمولی و دارای وقـوعـات و وفـیـات بلند است لذا مطالعات جدی و همه جانبه غرض فهمیدن بهتر اسهالات اجرا شده است.

این کـــوشش ها منجـــر به پیشرفت های عمده و مهم شده است رهنمودهای تدابیری ساده اما به نتـایج عـالی بوجـود آمـده کـه درصورت عملکرد به آنها وقوعات مـرگ و مـیـر ناشی از اسـهـالات کـاهش میـآید، متـأسفـانه این معلومات هنوز هم در هر جا عملی نمیشود، همین حالا در اکثر جاها به عـوض اینکه اسـهـالات مطابق معیارات ستندرد تجویز شده تداوی گردد برعکس تداوی اسهالات بطور غلط با انتی بیـوتیک ها وسـایر دواها به یک عنعنه مبدل شده است. خـانواده ها همـانطوریکه اکثـراً باخـرید این ادویه و اعتـمـاد به آن راضی وخـوشحـال میشـوند، از آنانیکه برای شان آنرا توصیـه نموده وطبق توقعات شان عمل کرده اند نیز خوشنود میگردند به هرحال این عمل مطابق معلومات و نتایج بدست آمده در ریسرچ های جدید نبوده منجر به وفیات و معیوبیت های غیر ضروری تعداد زیاد اطفال میگردد.

۱-۳

په پښتو شعرکی مذهبی څرکونه

د ثبات لیکنه او څیړنه

۱۲

ملنگ عبدالرحمان د دین دچارو د ارجحیت او صفت په باب وایی:

په دنیا کې چې څه کار دی خو د دین دی
د دې کار په کنندهؤ افرین دی

همداشـان تقوی او د پنداری لویه نیکمرغی بولی او قناعت ستـایی او دکمینې مقام ته داسې گوته نیسی:

تل د لوړې اوبه د رومې وژور ته
حق تعالی کمال ورکړی و کمین دی
تکبر او سرکشی د لعین شیطان عمل بولی.

صوفی عبدالرحمان د قران پاک د حکم مطابق عیب بولی او غیبت یو قبیح عمل گنی او عیب لټوونکی سری خپل دغه بد عمل ته داسې متوجه کوی:

چې مدام د بل وعیب و ته نظر کړي
خدای له خپله عیبه ولې نا خبر کړي

او وریسې د ده غیر متصفانه اعمالو ته اشاره کوی او وایی:

چې ولی خپل عیب کوچنی او دبل عیب لوی غر شمیري، خپله د غره قدری گناه د مچ وزر گڼې، خپل تیتو او دبل اس برابر وی له حق نه باطل ته ارزښت ورکوی، خپل د ملایکو مقام له گاو خر نه ټیټوي. شکران نعمت نه کوی او د مصیبت زغم نه لری، د خدای رضا ته غاړه نه ایږ دی له خدایه نا امیده کیږي، دځوانی عمر په غفلت کې تیر وې، ریا کاری کوی، د مرگ نه ویره نه لری او بالاخره رحمان بابا په مقطع کې نصیحت یوه لورینه گڼی او وایی:

وېد خواه وته څوک نیک نصیحت نه کا
رحمان ستا په غم شریک دی که باور کړی

رحمان بابا د یو مسلمان لپاره د عبرت ډیره اغیزمنه نمونه مرینه او هدیره بیبی او له پاک خدای «ج» نه ویره نه در لودل لوی حماقت گڼی:

تیسم مې د وگړی په روزگار شي
چې یې نه له خدایه ویره نه یې دار شي
له ده وزیری د ده په وړاندې ومری
لا یې مینه د دنیا په کارو بار شي
که یې هر قدم د مړو پر سر لاړ وی
بو قده هسی وانخلی چې په ...شي

او بالاخره صوفی عبدالرحمن بابا داسی مسلمان ته چې د نصیحت ور دی په تنبیهی توگه داسې مخاطب کوی:

بدلوی په دنیا، دین و ایمان ولې
نه پوهیږی په خپل سود و په زیان ولې
همیشه په ځای د شکر شکایت کړې
منکریږې په عطا د سبحان ولې

او په خدای ورکړی توان او قوت کې ځان ولی کمزوری احساسوی، د رزق له غمه چې خدای «ج» رازق دی ولې ژاړې، د محشر په فکر کې ولې نه اوسې له قضا څخه د مخه خپله رضا ولې غواړې، او په دې وجه بې هوده په گټو ولې اسمان ولې، دژوندینی په مړینه سخت کار ځانته اسان کړه، پر ته دخدای له مینی خپل زړه ته لکه کعبې ته بتان مه ننباسه څکه چې زړه د خدای کور دی. قرآن عظیم د خبیث په لاس مه ورکوه.

ته خپلې قربانی په بها ولې مطلوب نه ترلاسه کوی ته چې یې لکه یوسف «ع» د حبشی په بها اخلی.

او بالاخره د پورتنیو نصیحتونو او تنبیه گانو وروسته رحمان بابا د حسن نصیحت او پند په پای کې په لاندې مقطع خپلې عرفانی لورینی او د رحمانی ارشاداتو ابلاغول پای ته رسوی.

بد په بدو پښیمانی کاندی رحمانه!
ته پخپلو بدو نه شوې پښیمان ولې

(د رحمان بابا دیوان، ۲۵۵ مخونه)

پاتی لري

به طفل باید کمك کردتابه‌آینده امید وار شود

اطفـــال اندوهگین به کـــمک ضـرورت دارند تابه حیـات نورمـال ادامـه دهند. والدین باید در مـورد توقـعـات خـویش از طفل واقع بین باشند زیرا اینگونه اطفـال توانایی محدود در تمرکز فکر داشته و ممکن است همیشه احساس خستگی نمایند

فامیل طفل باید کوشش نماید تا زنده گی نورمال روزمره را مانند قبل از حـادثه ناگـوار ادامـه دهند، این مطلب درحالت مهاجرت نیز اجرا شده میتواند، مثلاً غذا در وقتی صرف شود که قبلاً فامیل درهمان وقت عادت داشته اند.

اگر به طفل وظایف کوچگ که از عـهـده آن بر آمـده بتـواند داده شـود برایش مفید ثابت میشود مثلاً آوردن آب، کمک درقـسمت صفایی خانه و یا مطالعه اندازه معین دروس مدرسه. توقعات هرفامیل متفاوت است و وظایفی که به طفل داده میشـود باید مطابق سنش باشد، این نکتـه برای طفل دارای اهمیت زیاد میباشد که زنده گی ادامـه دارد و به جـــستجـوی آیـــنـــده بـــایـــد بـــود.

دراجی

شیر مادرو اثرات آن

درکاهش امراض اطفال

نتایج یك مطالعه علمی که چندی قبل در مجله انجمن طبی امریکا به نشر رسیده‌نشان میدهد که امراض معدوی و امعایی در اطفالیکه از شیر مادر تغذیه می کنند نسبت به آن اطفالیکه از شیرهای دیگری می خورند، چهل فیصد کمتر است دربین اطفال خطر مبتلا شدن به مرض اگزیما یا خارش پوست نیز کمتر محسوس است.

یك داکـتـر مـجـرب بنام «کریمر» تجویز می کند که تغذیه طفل از شیـر مـادر هر وقـتـیکه ممکن باشد باید صـورت گیـرد و این کـار باید دوامدار باشـد وی گفت: که جامعه وسازمان های مـراقبت صحی باید تا حد ممکن کوشش کنند که زنان را به دادن شیـر شان به نوزادان ترغیب کنند.

یك متخصص دیگر اطفال خانم «روت لارنس» امریکایی کـه در پوهنتـون نیـویارك کـارمی کند ازنتیجه تحقیقاتش فاش ساخت که اطفالیکه از شیر مادر تغذیه می شـوند نظر به دیگران صحت مند تر بارمی آیند، خـــانم لارنس مـعـتـقـد است اطفالیکه لا اقل برای چهار ماه اول بعد از تولد شیر مادر نخورند در آنها وقوع امراض شکر، سرطان وغیره کمتر می باشد.

شاگرد

فراهم آوري سهولت در تثبیت غلظت خون

دست اند رکـاران طبی جاپان دستگاهي راساخته اند که به گفته آنهابدون انیکه از بدن مریض قطره خون گرفته شود، قادر است غلظت ماده خون را تعین نماید محققان جاپاني توضیح داده اند که دستگاه با استفاده ازاشعه مخصوص توسط یك کمره ویدیویی کارمی کند.

طرز کـاراین دسـتگاه طوري است که مریض انگشت خودرابرروي صفحه ویدیوي حـرکت می دهد وغلظت هموگلوبین آن اندازه گیـري مي شود. زمان اندزاه گیري غلظت خون چهل ثانیه تعین شده و اطلاعات بدست آمده را صـفـحـه ویدیویی درحافظه اش براي مدت زمان کارآمد حفظ می کند این دستگاه هم اکنون در خدمت طب و طبیبان قرار گرفته است. شاگرد.

د غـاښـونـو حـفـظ الصحه

د غـــاښـــونو زنگ داسې یو ترکـیب دی چې دخـولی دمـرض زیاتیدو سبب کیږی او تقریباً لږ یا ډیر هر انسـان په خوله کې شتـه. دغـاښـونو زنگ زیړ رنگ او ډیر کلک د تیـری په شـان دی، چې دغاښونو په بیخ کی را پیدا او په آسانی سره نه پاکیږی د امریکایی مؤلفینو په څیړنو کې تر اوسه دوه ډوله زنگونه پیژندل شوی لومړی ډول زنگ د لاړو نه را پیداکیږی او دویم ډول د وینې په سرم پوری مربوط وی.

دغـه وروسـتی ډول زنگ د هغـو کسـانو په وجود کې ډیر لیدل کیږی چې رنځ، تکلیف او تیـری وربانـدی وی.

د خـولی حـفظ الصـحـه د هر انسان وجیبه ده چې خپل غاښونه له هر راز مکروبونو وساتی د غاښونو زنگ د دې سبب کیږی چې په خوله کې راز راز مکروبونه پیداشی کـه دغـاښونو زنگ ته ځانگړی پاملرنه ونه شی دغاښونو عمر به ډیر کم شی، او د اوریو تکلیف هم انسان ته پیدا کیږی د انسان خوله به همیشه بد بویه وي چې حتی په ډېره فاصله کې به بل انسان تري متاثره کیږي، ځکه دغه زنگ د دی سبب کیږی چې اوری میکروبی شی.

انســان باید کـوښښ وکـړی د مـســواک یا برس په وسیله خـپل غـاښـونه او اوری پاکی کـړی ځکه نایلون، فلز او داسې نور د غاښونو لپاره مضر تمامیږی نو همیشه باید غاښونه له خوړو وروسته مسواک یا برس شی ځینې خلک په دی فکر دی چې باید په ورځ کـــې یو ځل غاښونه ومینځل شی البته داسی نه ده بایدلا اقل په ورځ کـــې دوه ځلې غاښونه مسواک او یا برس شی یو ځل سهار او بل ځل هم د شپې له خوړو وروسته. د غاښونو لپاره باید نسبـتـاً له سخت برس یا مسواک نه استفاده وشی، ترڅو د خوړو هغه واړه ټوکی چې په غاښونو کې بند پاتې دی راووځی د غاښونو د برس او یا مسواک لپاره د کریم او یا د اکسیر مخلوط چې څو قطری په یوگـیـلاس اوبو کـې واچول شی اسـتـعـمـال یې ډیر مفید دی.

دغـاښـونو پاسنی برخه او ځنگونه باید ښه برس شی کله چې خوله ومینځل شوه بیا دی د غاښـونو فاصلی پاکی شی چې کوم شی په کې بند پاتې نه وی. کله چې خوله ومینځل شوه بیا دی د ویلنی څو قطری اوبه په یو گیلاس اوبو کې واچول شی د دې محلول په واسطه دې خپله خوله معطره کړی. له یوه مسواک یا برس نه فـقـط یوکس استفاده کولی شی مسواک یا برس باید له دوړو محفوظ وساتل شی.

محمد شعیب «صافی».

اعلانات

اکبرعلی فرزند سیداحمدعلی یك باب دکـان ملکیت بانك رهنی وتعمیراتی واقع سینما پامیر را ماهانه مبلغ یك ملیون و هشتصد هزار افغانی برای مدت یکسال قبولدار گر دیده است.

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تعمیرات بانك رهنی و تعمیراتی بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۶-٤-۱٤۲۲ تاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد.

***

جمعیت هلال احمر افغانی حاصل دو باب باغ انگوری و حاصل درخت های بادام خویشرا که درمحوطه جمعیت هلال احمر موقعیت دارد درسال ۱٤۲۲ به اجاره میدهد.

اشخاص و موسساتیکه خواهش اجاره گرفتن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت تعمیرات ریاست پلان و احصائیه در مرکز جمعیت هلال احمر افغانی واقع افشار بسپارند و خود شان از تاریخ ۱۶-٤-۱٤۲۲ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

کثافات مواشی کشتارگاه واقع پنجصد فامیلی به اجاره داده میشود

ضرورتمندان درخواستهای خویشرا بریاست ناحیه پانزده هم شاروالی کابل بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۶-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند. شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

***

یك دربند حویلی مشترکه ملکیت جان آغا فرزند خان محمد رئیس شرکت جان لمتد واقع سرك سوم تایمنی وات که تحت تضمین بانك انکشافی صادرات قرار دارد برای مدت یکسال به کرایه داده میشود اشخاص و موسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت تعقیبه بانك انکشاف صادرات بسپارند وخود شان از تاریخ ۱۶-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

مستوفیت ولایت کابل یك دربند حویلی واقع (تلی کوچه) را با چاری فرزند میرزامحمد ماهانه مبلغ دوملیون افغانی ویك باب دوکان واقع کارته پروان را با پادشاه خان فرزند ادم خان ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی برای مدت سه سال عقد قرار داد مینماید.

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت حفظ ومراقبت مستوفیت کابل بسپارند وخود شان از تاریخ ۱٤-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

***

ریاست تصدی کارخانجات جنگلك به یك نفر معتمد نقدی ویك نفر معتمد جنسی که ضمانت اصولی حاضر کرده بتوانند ضرورت دارد.

اشخاصیکه خواهش کار را داشته باشند بمدیریت کارکنان ریاست کارخانجات جنگلك مراجعه نمایند

***

خوشحال یازده قلم روغنیات مورد ضرورت ریاست عمومی کار وامور اجتماعی را به مبلغ هفتصد وسی وپنج ملیون و پنجاه ونه هزار و [illegible] مناقصه کننده گان درخواست های خویشرا بریاست عمومی کار و امور اجتماعی بسپارند و خـود شـان از تاریخ ۱٤-٤-۱٤۲۲ تـا ده روز مـراجعـه نمایند.

راغلی لیک

د توبرکلوز اداري له خوا جوابیه لیک :

د شریعت ورځپاڼې محترمې اداري ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! ډیر خوښ یو چې په بیلابیلو برخو کې د افغانستان د مظلومو خلکو د زړه اواز خپروئ او په چارو کې تیمګړتیاؤ ته خلک متوجه کوئ . غواړو د ربیع الثانی ۱۳ می نیټې په ورځپانه کې د راغلی لیک ترعنوان لاندې د یوه ورور د انتقادلیک په ځواب کې د توبر کلوز اداري له خوا موضوع په لاندې ډول واضح کړو :

۱ - موږ په اوني کې دري ځله د بیا کتنې یا (ریویومیتینګ) په نوم غونډې لرو چې د ښځینه ، نارینه او ماشومانو لپاره په بیلو بیلو ورځو کې جوړیږی . په دې غونډو کې د (OPD) دري واړو ځانګو ډاکتران برخه اخلی ، داغونډې دعاجلو ، مشکوکو او له اطرافه راغلو ناروغانو لپاره ځانګړی شوی دی او نوموړی ورور دهمدغسې یوی غونډې په ورځ تشریف راوړی ؤ .

۲ - موږ دمریضانو کتلو په ځانګه کې دراجستر ځانګه لرو چې په هغه کې یو تجربه کار نرس موجود وی او هرڅوک چې د تقرر پاڼه راوړی ، که نوموړی شخص څه ځرګند اعتراض و نه لری نو د ټولو ادارو له تعامل سره سم د هماغه نرس له خوا د تقرر پاڼه ټاپه کیږی او ټاپه هم همیشه له نرس سره موجوده وی .

ښایی نوموړی ورور نرس او مستخدم نه وی سره پیژندلی .

۳ - داچې ګیله د یو ناروغ له خوا نه ، بلکې د تقرر د یو عارض له خوا مطرح شوی نو له دې امله خورا بی ځایه ، بی وزنه او له حقایقو لری ښکاری

٤ - دا خو بالکل امکان نه لری چې په روغتون کې دی له سره مسئولین ، ډاکتران او یا اقلاً نرسان یو هم موجود نه وی نو ولی نوموړی ورور له کوم مسئول سره تماس نه نیوه .

٥ - له « شریعت ورځپاڼې » هیله کوو ترڅو په مختلفو ادارو د بی ځایه تور تهمت د مخنیوی لپاره په دې ډول انتقادی لیکونو کې په تثبت او څیړنه وکړی او دایو شرعی اصل هم دی . تورمو په خپلو مکلفیتونو کې بشپړ بریالیتوب غواړو .

والسلام علیکم

د « توبرکلوز » اداري محترمو کار کوونکو ! دادی ستاسو توضیحی لیک مو کټ مټ خپور کړ ، هیله ده اعتراض کوونکی ورور هم پرې قانع او خواشینی یې رفع شی .

ا د ا ر ه

دمخالفینو ۸ تنه ...

مبین دین او دهیواد دښمنانو ناوړه پلانونه هغوی ته بیان کړل او له هغوی څخه یې وغوښتل چې دهیواد دبیا جوړولو په لاره کې له نورو هیوادوالو سره اوږه په اوږه د ارزښتناکو خدمتونو جوګه شی .

احمد شاه مسعود ...

ګرفتن قاچاق و تجارت بین المللی زمرد ولاجورد بدخشان شکست های بزرګ سال ګذشته خوبشرا جبران میکند .

هفته نامه می نګارد مسعود سلاح ومهمات رااز طریق خاک تاجکستان بدست می آورد ، ګفته میشود که دربین افراد مسعود افراد ملکی که تمرینات نظامی ندیده اند نیز شامل اند زیرا مسعود درساحه تحت تسلط خویش دست به جمع آوری افراد زده ، جوانان ونوجوانان رابه زور به جبهات جنګ می فرستد تحلیلګران به این عقیده اند که بدست آوری سلاح ومهمات از روسیه توسط مسعود یک دررعمیق رادربین قوماندانان ایجاد نموده زیرا اکثراً بخاطر بدست آوردن سلاح ومهمات بیشتر وپیشرفته بین قوماندانان جنګهای خونین مشتعل میشود.چنانچه به تاریخ اول ربیع الثانی بین قوماندان شیرعلم و قوماندان بسم الله جنګ خونینی دراستقامت سرک کهنه شمالی وزدوخورد های پیهم درمحمود راقی رخ داده است که منجر به قتل تعدادی از جنګجو یان هردو طرف ګردیده است .

پطرولی جنراتور ...

د یو پنځوس کیلو واته پطرولی جنراتور د کار سیستم چې په ٢٤ ساعتو کی یې اته سوه لیتره پطرول خوړل له پطرولی سیستم څخه په ګازی سیستم بدل کړیدی .

له دغه جنراتور څخه د برېښنا د نشتوالی په صورت کې د اوبو دهغه پمپ دفعال ساتلو لپاره کار اخیستل کیږی چې له اوبو څخه یې زرکورنی او دشمال د تیلو اوګاز د پلټنی ریاست منسوبین استفاده کوی .

دغه راز د دغه ریاست انجنیرانو له موجودو وسایلو څخه په استفادې سره د نورو ادارو د وسایلو او سامان الاتو په ترمیمولو برسیره د برېښنا

تـــوجـــه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس رابه بی حرمتی بګذارید .

امتحانات وسطی مدارس ...

بازدید به عمل آورده وبه شاګردان ممتاز مدارس کتابچه ، قلم و پرکار تحفه اهدا نمودند.

یک منبع مسوول به خبرنګار ما چنین معلومات داد :

امسال درچوکات ریاست معارف شهرکابل ١٤١٢٨٩ تن طالب العلم توسط ۲۳۷٤ تن استاد در ۱۲۰ باب مدرسه که شامل ۲۹ باب مدرسه عالی ۷۲ باب مدرسه متوسط و ۱۹ باب مدرسه ابتدائیه تحت آموزش قرار دارند .

عارف عبدالله



عکس نمایی از مدرسه اساسی . (عکاسی یوسف)

بو څلور سوه کیلو واته ترانسفارمر چې له فعالیت څخه وتلی ؤ هم بیا فعال او داستفادې وړ ګرځولی دی .

دمالیې وزارت ...

تنو مامورینو په ګډون جوړشو د حسابی دفترونو د سمون ، د لیلام ، جنسی او نقدی مسألو د ځرګندولو او بیانولو په باب تدریس کیږی .

یوه نوي مدرسه ...

د علمای کرامو ، دمدرسو د استادانو او دسیمې د خلکو په ګډون جوړه شوی وه ، د بادغیس ولایت د پوهنې رئیس محترم سیدمحمد عالم د علم او پوهی د زده کړی د ارزښت او دهیواد دبچیانو د سالمی روزنې په باب هر اړخیزی خبری وکړی .

د دغې مدرسې ځمکه چې نیم جریب ځمکه کیږی پنځه ملیونه افغانی ارزښت لری او دسیمې د یو دیندار او سیدونکی محترم عبدالخلیل له خوا د بادغیس ولایت د پوهنې ریاست ته ورکړ شویده .

۳٦۲ حلقه ...

معاون ریاست پلان ریاست عمومی انکشاف دهات به خبرنګار ماګفته افزود :

طوریکه از نام ریاست عمومی انکشاف دهات هویدا است این ریاست درخدمت هموطنان ما که در ولایات وقریه جات زنده ګی میکنند قرار دارد.ریاست انکشاف دهات برعلاوه خدمات ذکر شده تا حال ۳۱ حلقه ارت رادر ولسوالی های پغمان وخاک جبار ولایت کابل فعال ساخته است همچنان بخاطر حفظ الصحه محیطی ٤۰۰ مبرز را در ولایت کابل و ٤۰۰ مبرز را به کمك موسسه مداير در ولایت لوګر احداث نموده است .

عبدالبصیر « شاکر »

دچرسو کرونده ...

د باختر اطلاعاتی اژانس خبر راکړ دغو مؤظفینو د میدان وردګ ولایت د ذیب داغ کلی او کوته عشرو د سیمی د څیړنی په ترڅ کې پنځه بسوې ځمکه چې د بنګو بوټی کرل شوی ؤ ویجاړه او خاوند ته یې لازمه توصیه وکړه .

از ملي بس تا ...

طولانی شهرکابل دچار مشکلات عظیمی می باشد .

بدیهی است که امارت اسلامی افغانستان از دراز مدت بدینسو همه سکتورهای امارتی را دراختیار اشخاص وافراد خصوصی قرار داده است تا اګر بتواند از این طریق مصدر خدمات ارزنده درعرصه های مختلف برای ملت رنجدیده و مظلوم افغانستان ګردد ، اما از آنجا تیکه دیده میشود این سکتور ها درعرصه ترانسپورت نتوانسته اند تاهنوز برای خود یك پلان وپروګرام منظم کاری ایجاد نمایند تا از آنطریق بتوانند بر نیاز مندی های عمده ، واجتماع مردم فایق آیند و تسهیلات بیشتر دربن زمینه کمایی کنند ، بطور مثال مروزسیستم تکسی شهری درکابل با مدرن ومستریح ترین تیز رفتارهای جاپانی از نوع آخرین مودل کرولا عبارمی باشد درحالیکه خدمات بس های شهری ما درخود پنج فیصد امکانات تکسی های شهری نیست.

محترم قاری احمد الله « احمدی » مدیر عمومی ترافیك کابل در زمینه میګوید :همین حالا درمجموع شهرکابل (۱۹۰۰۰) عراده تکسی فعالیت دارد که ٦۰۰۰ عراده آنرا کرولاهای تیز رفتار جاپانی یا به اصطلاح سراچه ها تشکیل میدهد .

البته این رقم درشهر کوچك کابل به مراتب بالاتراز آن ضرورتی می باشد که مردمان این شهر درخصوص نیاز مندی به تکسی دارند .

علی الرغم اینکه این سراچه ها شترنګ چپه بوده ودرمغایرت با قانون فعلی ترافیك درکشور ما قرار دارد ، مګر امروز تسهیلات این موتر ها نسبت به هرنوع تکسی های تیز رفتار دیګر حقیقتاً درخود ملاحظه می باشد .

ګفتنی است که از تورید این سراچه ها به افغانستان دیری نمیګذرد ، لیکن طی همین کوتاه مدت صدها سراچه داخل خاك ما شده است .

محترم احمدی دررابطه میګوید:امروز تنها ۱۸۰۰۰ عراده موتر تیز رفتار از نوع سراچه درشهرکابل فعالیت دارد .

محترم ملا عبدالصمد «حلیم » معاون ریاست ګمرك کابل از کثرت این سراچه ها ... اینګونه یاد آوری میکند :

، حالادرطول هفته طوری اوسط تا ۲۰۰ سراچه درګمرك کابل محصول ورودی میګردد ، البته این درحالیست که قبلاً بین ۱٥۰ تا ۲۰۰ سراچه درروز محصول ورودی میشد .

آنچه درخورتذکروباد دهانی است اینست که اګر تجار ، سرمایه داران ومتشبثین خصوصی درکشور درکنار منفعت شخصی مصلحتهای اجتماعی مردم وجامعه خویش را نیز مدنظر بګیرند به یقین ګفته میتوانیم که مشکلات بزرګ مردم ما ، درکوتاه مدت آسان ګردیده وهموطنان فقیر و دردمندما میتوانند درکنارامنیت وآسایش بی الګوی سرتاسری درافغانستان از امکانات خوب زندګی وتسهیلات نیك اجتماعی مستفید شوند. به این معنی که اګر بعدازاین تاجران وسرمایداران ما درمقایسه باتورید سراچه ها در قبال تورید بس های شهری نیز سهم فعال وسازنده بګیرند میتوانند بزرګترین مشکلات اجتماعی واقتصادی امروز ۲ ملیون باشند ، این شهر را که عبارت از فقدان بس های شهری روی جاده های شهر کابل می باشدبه سادګی آسان نمایند. مهربان

مسابقه فوتبال ...

خبرنګار ما از جریان مسابقه ګزارش داد :

مسابقه متذکره حوالی ساعت چهار و ده دقیقه آغاز شده که بازی درتایم اول بسیار سرعت داشت و درآواخر تایم اول خداداد بازی کن تیم میوند ګول سیاوون را به لرزه درآوردو تایم اول به نفع تیم کابل الف خاتمه یافت . درتایم دوم اعضای تیم سیاوون با نهایت کوشش توانستند که با وارد نمودن یك ګول بازی را مساوی بسازند . ارسلان

بدي اخیستونکي ...

بیو د ټاکنې مدیر انجنیر عبدالوکیل د عبدالواسع زوی او د دغې ناحیې د انجنیری د لوی مدیریت مامور شاه محمود د تاج محمد زوی چې دری زره پاکستانی کلداری یې د بډې په توګه اخیستلی د استخباراتو د لوی ریاست د تعقیب اداری د موظفینو لخوا لاس په لاس ونیول شول او دقانون منګولو ته وسپارل شول .

وقایه ارزانتر از تداوی است

هوا ګرم بود ، عابران به سرعت از جاده های مملو از فروشنده ګان دوره ګرد می ګذشتند و ګاه ګاه به صدای آنها ګوش میدادند ، به نظر می رسید اګر ترافیك جاده این همه تنبګی ها را کنترول نکند بالاخره عابرین هم نخواهد توانست ازیك طرف جاده به طرف دیګر جاده راه بیابد درهمین حال باد تندی وزید ، خاك وګرد را از روی کثافات اطراف جاده وداخل دریا برسر وصورت عابرین وبالای امتعه فروشنده ګان کوبید .

فروشنده ګان بدون توجه به این همه ګرد وخاك و کثافاتی که به روی امتعه عرضه شده متراکم ګردیده عابران را به خرید امتعه فرامیخواندند ، چکه فروشی دربیل خشتی با قاشق چکه راچنان زیر و ور کرد که آثاری از ګرد وخاك در آن باقی نماند ، تربوز فروش «قاشکی» کشمش آب فروش وغیره فروشنده ګانی که امتعه شان باید بدون شستن به مصرف برسد بدون وسیله محافظتی مواد خویش را باهمه کثافات وګرد وخاك به مشتری عرضه میکنند ، متأسفانه این فروشنده ګان نمی دانند که در این روز های ګرم تابستان شیوع امراض ګوناګون ساری را بیشتر ساخته اند .

حیات هموطنان ما را کی خواهد خرید ! ادویه لازم برای تداوی ندارند وآنها را به خطر مواجه می سازند ، بدون شك اګر مسئولین راه های حل برای مشکل توزیع عرضه مواد مصرفی اولیه را جستجو نکنند مردم دریك جبهه دیګر جنګ علیه امراض ګوناګون قرار خواهد ګرفت ، جبهه که توان کمتر مقاومت برحریف دارد .

سه نوجوان دریک بایسکیل

ترافیك هم از خود قانون ومقرراتی دارد که هرکسی از آن تخلف کند به سزای اعمال خود می رسد.

اخیراً حادثه دلخراش درساحه چمن بیرك رخ داد و آن اینکه سه تن از نوجوانان سوار بر یك بایسکیل از طریق چمن بیرك به طرف شهر درحرکت بودند که با یك موتر تیز رفتار سراچه تصادم نمودند .

بر رسی حادثه را خود موتر ران نموده دانست که مقصر اصلی راننده بایسکیل بود و توسط موتر،مجروحین حادثه را به شفاخانه انتقال داد .

از حالت مریضان وسرنوشت موتر ران خبر در دست نیست . درانی

جنرال مشرف ...

اوکشوری ړنګی سه واټی ونه سوبی د دغه ټکی ورمه ورځ د پاکستان په پلازمینه اسلام آباد کی دیوی ویناپه ترځ کی ځرګند کړ .

دغه څرګندونی یوه اوونی له هغه مخکی کیږی چی ټاکل شویده د پاکستان مشر په هند کی د دغه هیواد له صدراعظم اټل بیهاری واجپای سره لیده کاته او خبری وکړی.

بوژورنالیست ...

کی بریده ړیه ئدی وشو . هغه نیپال په ریو یو کی دیارل شول چی ژورنالیست هوراولکند ږوند د نامعلومو خلکو له خوا په لرګیو وهل شویدی . ابلکساندروف بوولس ژورنالست دی چی په تیرو پنځو کالو کی په اوکراین کی وژل کیږی . تیر کال هم یویل پلټونکی ژورنالست خارجی ګرنګه دزی ورک شوا و بیا مړ وموندل شو . د دی قضیی سره ډیر سیاسی تورلګونی اوبدوینی رامنځته شوی او په زرګونو احتجاج کوونکي کوځوته راووتل چی دولتی مشر لیونید کوچما استعفا وغوښته یې کوله ځکه چې دا تور ... چې په دغه وژنه کې یې لاس درلود خو دده داتور رد کړ .

قیام مسلحانه ...

صهیونستان وارد ګردید طبق یك خبر دیګر بیست تن از مجاهدین زمانی زخمی ګردیدند که بالای یك مرکز تجمع نظامیان مسلح در ساحل غربی رود اردن حمله نمودند.

په نیپال کي ...

کالیزی پر مهال شوی چې تیره میاشت هغه مهال پاچا شو چې کله ولی عهد شهزاده د شاهی کورنی نور غړی ووژل . جنګیالیو په نیپال کی د اوسنی بی ثباتی څخه ګټه پورته کړی او دملی امنیت د ساتلو لپاره د نورو قوانینو سره سره یې خپل کمپاین پرمخ بیولی دی .

میلوسویچ ...

دفن کرده اند .

وزیر داخله صربستان طی یک کنفرانس خبری اظهار داشت که سلو بودان میلوسوویچ دستور مخفی دفن کردن این افراد را صادر کرده است تا جنایات صربها را درایالت جنګ زده کوسوو اکتمان کند .

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq